# په کډوالۍ کې مورنۍ ژبه او ستونزې

لیکنه: ډاکټر نجیب الله زاخېلوال

زه به کوښښ وکړم چې د افغاني کورنیو د مشکلاتو او ستونزو په نظر کې نیولو سره به پدې برخه باندې د خپلو تجربو او زده کړو له مخې یو څه ولیکم.

دا پوښتنه هم ساده او هم ډېره پېچلې ده. موږ په یو داسې نړۍ کې ژوند کوو چې هغه پولې او باورونه چې پخوا یې شتون درلوده له مینځ څخه تلونکی دی. پدې مانا چې دا مهال که ووینو یوې ازبکې پېغلې د یو پښتون سره واده کړې، یو تاجک بیا د یوې پښتنې پېغلې سره واده کړی، هغه قومونه چې پخوا یې په نورو قومونو که نه ودونه کول او نه یې ترې ودونه کول نن د یو بل سره خپلوۍ لري. یانې په یو کور کې موږ تاجک، هزاره، پښتون، ایماق میندلی شو .

که له دې هم مخته ولاړ شو نو دا مهال نړۍ د زبرځواکونو د وسلو د ازمایلو په لابراتوار بدله شوې ده او د نړۍ زیاتره وګړي اړ شوي دي چې خپله سیمه او هېواد پرېږدي او بلې سېمې او هېواد ته کډوال شي. یو داسې سیمې او یا هېواد ته چې ژبه، کلتور، عنعنات او ان خویونه یې د کډوال د پلرني هېواد سره توپیر لري. په همدغسې حالت کې همدا پوښتنه راپورته کیږي چې کډوالې کورنۍ څنګه کولای شي د ماشوم په دوه ژبې کېدلو باندې اغېز ولري؟

زه زیاتره وخت د یو شمېر کورنیو سره مخ شوی یم چې کوچنیان یې په روانه فرانسوي، انګریزي، جرمني، دنمارکي او یا سویدي خبرې کوي خو د خپلې مورنۍ ژبې په ویلو یې ژبه نه اوړي. د اروپوهانو او څېړنکو له خوا دا یو ناورین بلل شوی دی. چې ددغه ناورین له مینځه وړلو لپاره پوهنېزو او څېړنېزو مراکزو ګڼې څېړنې کړي چې په څه ډول ددې ستونزې مخه ونیول شي.

دا ستونزه زیاتره د کور دننه او یا هم د یو کور د ټولنې سره شتون لري پدې مانا یوه پښتنه مېرمن په یو تاجک کورنۍ کې واده شوې او یا یو کورنۍ په یو داسې ټولنه کې ژوند کوي چې چې خوا او شا وګړي یې بل ډول کلتور او ژبه لري.

که دلته بحث هر لور ته وغځول شي نو په هره شېبه کې لسګونه پوښتنې راپورته کیږي چې باید ورته علمي ځواب ورکړل شي خو زه یوازې غواړم په لنډ ډول پوښتنې راپورته کړم او بیا پرې یو ځغلنده نظر وکړم.

۱.مور او پلار ولې کډوال شو؟

۲. ایا په پام کې ده چې کډواله شوې کورنۍ په نوي هېواد کې به تل لپاره پاتې کیږي. تر کومه او موخه یې څه ده؟

۳. کډوال شوې کورنۍ کې لویانو (میندو او پلرونو) ته خپله ژبه او خپل کلتور څومره ارزښت لري؟ او څه احساس لري؟

که د همدغه پوښتنو په اړه فکر وکړو او ځواب یې کړو نو بیا مو ددې سره مرسته کړې وي چې ماشوم مو دوه ژبې راشي او پدې لاره کې اغېزمن ثابت شو. د څېړنو په پایله کې جوته شوې ده چې مور او پلار د کوچني په ټولنېز او فکري پرمختګ کې جوته

Dieses Material steht unter der Creative-Commons-Lizenz Namensnennung 4.0 International. Um eine Kopie dieser Lizenz zu sehen, besuchen Sie http://creativecommons.org/licenses/by/4.0/.

The European Commission support for the production of this publication does not constitute an endorsement of the contents which reflects the views only of the authors, and the Commission cannot be held responsible for any use which may be made of the information contained therein.

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union

ونډه لري. که موږ ماشومانو ته خپله ژبه او خپل کلتور په ښه ډول ورزده کړو نو ماشوم سره به مو دا مرسته کړې وي چې ماشوم په لوی عمر کې د شخصیت او هویت د بحران سره مخ نشي. کوم ماشومان چې د خپلې مورنۍ ژبې څخه محروم شي نو زیاتره دا ډول ماشومان د عمر په تېرېدو سره د هویت د بحران سره مخ کیږي. ځکه دا خلک د ژوند په یو دوه لارې کې بند پاتې کیږي او نشي کولای چې یو هویت واخلي. که یو هویت واخلې نو د بل هویت د لاسه ورکولو له امله ځان محکوم ګڼي چې همدا محکومیت په نوموړی کې یو بحران راپیدا کوي چې دا بحران دده د سالم علمی، فکر او ټولنیز پرمختګ پر وړاندې خنډ کیږي او ان تر دې چې زیاتره دا ډول خلک بیا غیری سالمو لارو ته مخه کوي لکه ښوونځي سره د مینې کمښت، سټړیا، د کور څخه پردې کېدل، انزوا، نشې، بېسری، غیرې اخلاقې کړنې... دا هر څه ددې لپاره کوي چې تر څو خپل ځان ومومي او د هویت د بحران څخه خلاصون پیدا کړي.

دا د کډوالۍ جبر دی چې انسانان د هغه څه څخه چې لري یې، لېرې کوي. د خپلوانو او دوستانو څخه لرې کیږي چې دا لېرېوالی د یو ماشوم د اروايي ټولنیز رشد چې باید یو ماشوم یې په ترتیب سره زده کړی، له مینځه وړي. د بېلګې په ډول که یو ماشوم په افغانستان کې د خپلوانو تر مینځ رالوی شې نو هلته د سترۍ مه‌شي، مشرانو د احترام، مشرانو ته د نوم اخیستلو دود لکه غټ لالا، مشر کاکا، حاجی صیب، معلم صیب، ګل لالا، په دودونو کې د خدمت دود، د خپلوانو په غم کې د غم احساس، د خوشالۍ احساسات په طبیعې ډول زده کوي.

فرانسیوس کروس جین د دوژبیتوب او دوه کلتورتوب (Bilingualism and Biculturalism) کتاب لیکوال پدې باور دی چې "په یو نوي کلتور کې بېلا بېلې لارې د لویانو لپاره شتون لري خو یو شمېر پاخه عمر خلک چې انګیري نوي راغلي هېواد ته د یو لنډ وخت لپاره راغلي دي او بېرته به خپل هېواد ته ستانه شي، نشي کولای بریالي اووسي. نو دا ډول خلک نه د نوې ژبې د زده کړې لپاره لېوالتیا لري او نه یې ماشومان مورنۍ ژبه زده کولای شي. دویمه ډله خلک هغه دي چې نوي هېواد ته په رارسېدو هر هاغه څه چې دوی د خپل هېواد څخه د ځان سره لري ځاه ته غورځوي او ددوی په مینځ کې بیا بله ډله خلک هم شته چې هغه هم نوی کلتور او نوې ژبه زده کوي او هم خپل ژبه او کلتور ساتي".

زه پدې باور یم هغه خلک چې نوي هېواد ته راغلي دې او بېرته د خپل هېواد د تللو په اړه فکر کوی دوی باید ددې فکر پر ځای پدې هېوادکې لومړی د نوي هېواد د شتو فرصتونو څخه ګټه واخلی او د وخت په طمعه دې اوسي او هغه ډله خلک چې خپل کلتور او ژبه هېروي نو هغوې دېته پام وکړي چې پدې کار سره دوی د هویت د تشې سره مخ کیږي چې دا بیا په ماشومانو کې یو لړ ستونزې راپیدا کوي.

په لنډه توګه که ووایم نو میندې او پلرونه باید تل د ماشوم سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي. زما مشوره داده چې تاسې باید د سټړیا احساس ونه کړئ، ځکه زه وینم چې زیاتره میندې او پلرونه وروسته د هغې څخه د سټړیا احساس کوي چې کله د ماشوم سره په مورنۍ ژبه خبرې پیل کړي او ماشوم په پرلپسې ډول ورته د اکثریت په ژبه ځواب ورکړي نو میندې او پلرونه ماشوم ته تسلیم شي او ورسره د اکثریت په ژبه خبرې پیل کړي. چې دا کار د ماتې خوړلو په مانا دی. میندې او پلرونه باید په هر حالت کې د خپل ماشوم سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي. د میندو او پلرونو د احساس له مخې دا منم چې دا کار ستونزمن دی ځکه

cc BY

Dieses Material steht unter der Creative-Commons-Lizenz Namensnennung 4.0 International. Um eine Kopie dieser Lizenz zu sehen, besuchen Sie http://creativecommons.org/licenses/by/4.0/.

The European Commission support for the production of this publication does not constitute an endorsement of the contents which reflects the views only of the authors, and the Commission cannot be held responsible for any use which may be made of the information contained therein.

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union

میندې او پلرونه غواړي چې ماشوم سره اړیکې ولري خو د ماشوم په بله ژبه د ځواب ورکولو پرمهال میندې او پلرونه انګیري چې ماشوم سره یې اړیکې کمزورې شوی.

مېرمن لیونرا ارنبری په خپل کتاب "پدې ډول ماشومان دوه ژبې کیږي" لیکي: "میندې او پلرونه باید د خپل ځان لپاره یو هدف وټاکي چې په کومه کچه غواړي چې مورنۍ ژبه ماشوم ته ورزده کړي. غواړئ ماشوم ته مورنۍ ژبه په غیریفعال (منفعل یا Passive)،کارنده (فعال یا Active) او یا بشپړ (مطلق Absolut) ډول وزده کړئ. چې د همدغه هدفونو د ټاکلو له مخې میندې او پلرونو کولای شي ښلابېلې لارې په مخکې ونیسي تر څو خپل هدف ته ورسیږي".

غیری فعال دوه ژبيتوب (Receptive bilingual or Passive bilingualism): پدې حالت کې ماشوم مورنۍ ژبه داسې زده کوي چې پوهېږي مور او پلار یې څه وايي خو نشي کولای چې په مورنۍ ژبه باندې ځواب ورکړي او نه یې د مورنۍ ژبې په ویلو ژبه اوړي.  دغې هدف ته د رسېدلو لپاره مور او پلار ته لازمه ده چې په هر حالت کې په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي که ماشوم ورته ځواب ورکوي او کنه، خو یوازې ماشوم وهڅوي چې ورته غوږ ونیسي سره له دې چې ورته میلان نه لري.

مک لافلین (McLaughlin) پدغه کې روش کې یو منفي ټکي ته اشاره کوي هغه دا چې هر کله چې یو ماشوم په منفعل ډول د یوې ژبې سره اړیکې لري، شاید هغه تسلط چې فعال ګټه اخیستنه یې ماشوم ته ورکوي ونه لري.

کارنده یا فعال دوه ژبيتوب (Active bilingualism): عبارت د هغه حالت څخه دی چې ماشوم هم په مورنۍ ژبه پوهېږي او هم په مورنۍ ژبه باندې په فعاله توګه خبرې کولای شي. د دغه روش ګټه پدې کې ده چې کورنۍ ته دا باور ورکوي چې ماشوم به حتما مورنۍ ژبه زده کوي. مور او پلار دواړه، په فعاله توګه ماشوم هڅوي چې په مورنۍ ژبه کور کې خبرې وکړي. که دغه کورنۍ د خپل ماشوم لپاره د هغه کورنیو مرسته ځان سره ولري چې په یوه مورنۍ ژبه خبرې کوي نو بیا ماشوم لاپسې تکړه کیږي. باید کتابونه فلمونه، سندرې، یا شعرونه په خپله ژبه واوري. مور او پلار باید کوښښ وکړي چې د ماشوم پر وړاندې تل کوښښ وکړي چې په مورنۍ ژبه خبرې وکړي  او مورنۍ ژبه د کور ژبه وګرځوي.

بشپړ یا مطلق دوه ژبيتوب (Absolute or Full bilingualism): دا هغه حالت دی چې ماشوم هم په مورنۍ ژبه پوهېږي او هم پرې خبرې کولای شي. دلته باید مور او پلار ماشوم ته د مورنۍ ژبې د ورزده‌کولو لپاره د جوتو لارو څخه کار واخلي د بېلګې په ډول ماشوم سره په مورنۍ ژبه لیک لوست کول او د مورنۍ ژبې درسونه ووايي. په اونۍ کې یو یا څو ځلې په مورنۍ ژبه باندې تمرین کول، خپل هېواد ته تګ راتګ، د نیا نیکه سره خبرې کول او د هغه غږیز یا انځوریز پیغامونه ماشومانو ته ثبتول. خو دا باید له یاده ونه ویستل چې د بلې ژبې تمرین ته هم ځانګړی وخت ورکړل شي تر څو ماشوم په متوازي ډول دوه ژبي لوی شي.

زه یو شمېر خلک وینم چې په کور کې د خپلو ماشومانو سره جرمني، هالنډی او یا د مورنۍ ژبې پرته بله ژبه وايي. که ترې وپوښتې چې ایا ولې دا کار کوي نو دا کورنۍ تل دوه دلایل راوړي:

۱. والله ماشوم مې په مورنۍ ژبې نه پوهیږي، زه مجبور یم چې ورسره پدې ژبه خبرې وکړم.

Dieses Material steht unter der Creative-Commons-Lizenz Namensnennung 4.0 International. Um eine Kopie dieser Lizenz zu sehen, besuchen Sie http://creativecommons.org/licenses/by/4.0/.

The European Commission support for the production of this publication does not constitute an endorsement of the contents which reflects the views only of the authors, and the Commission cannot be held responsible for any use which may be made of the information contained therein.

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union

۲. والله څه وکړم، غواړم ماشوم ښه راتلونکې ولرې او دا ژبه ښه زده کړي، مورنۍ ژبه به خپله زده کړي.

دوی دې دا نه هېروي چې دوی په ناسمه لار روان دي. دا دواړه دلایل د علمي پلوه غلوونکي دي او ځان د مسؤلیت څخه خلاصول دي.

د لومړی دلیل ځواب، ماشوم چې د مور په ګېډه کې وي نو مور او پلار چې په کومه ژبه خبرې کوي نو د هماغه ژبې سره اشنایي پیدا کوی او کله چې وزیږیږي او بیا ورسره مور او پلار په مورنۍ ژبه خبرې کوي نو د ماشوم غوږونه د مورنۍ ژبې سره عادت کیږي. نو دا چې ماشوم په لومړیو کې نه غواړي او یا بغاوت کوي چې مور او پلار سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي نو دا کار باید میندې پلرونه د خپل ناکامۍ دلیل ونه ګڼي او کوښښ وکړي چې ماشوم سره په مورنۍ ژبه خبرې پیل کړي تر څو ماشوم د بغاوت سره د منښتې په لور راشي.

دویم دلیل لپاره ځواب: تر ټولو د مخه دلته د د ستاکهلم په پوهنتون کې د څو ژبتوب څېړونکی پروفیسور نیکلاس ابراهامسن (Niklas Abramsson) نظر راوړم، هغه وایي: "داسې کوم بیالوژیکي سرحد نشته چې یو انسان څو ژبې زده کولای شي او پرمختګ پکې کولای شي. موږ داسې انسانان هم لرو چې تر ۸۰ ژبو پورې یې یادې کړې دي. که یو ماشوم په یو څو ژبې کورنۍ کې رالوی شي او مور او پلار ورسره وړ مرسته وکړي نو کولای شي په یو وخت کې څو ژبې زده کړي."

ماشوم هغه ژبه ژر زده کوي چې ټوله ټولنه پرې خبرې کوي نو میندې پلرونه که غواړي چې مورنۍ ژبه یې ماشوم زده کړي نو باید تل د ماشوم سره په مورنۍ ژبه خبرې وکړي او دا تشویش له ذهن وباسي چې ماشوم به یې د اکثریت ژبه کې ستونزه ومومي. ځکه په اروایي لحاظ ماشوم په چټک ډول دا مومي چې کومه ژبه ډېره ویل کیږي نو کوښښ کوی چې هماغه ژبه زده کړي.

په افغاني ټولنه کې بله ستونزه نالوستي یا بېسوادي ده، ځینې میندې یا پلرونه نالوستي دي. دوی ته زما مشوره داده چې د کتابتون څخه دې انځوریز کتابونه راپور کړي او د هر عکس سره دې په مورنۍ ژبه هغه ته یو کیسه کوي.

هغه کورنۍ چې په کور کې یې یوه ژبه ( یا پښتو او یا دري) وي پدې مانا چې مور او پلار د یوې ژبې ویونکي وي د کډوالۍ په دوران کې دوی د هغه کورنیو په پرتله چې په کور کې یې یوه یا دوه ژبې وي د دومره ستونزو سره نه مخ کیږي.

هغه څېړنې چې په استرالیا کې تر سره شوي دي لیدل شوي دي. کومې کورنۍ چې مور او پلار یې د یو مشترکې ژبې لرونکي وي نو د هغوی مورنۍ ژبه دویم نسل ته هم په ښه شکل انتقال شوی وه. خو کومې کورنۍ چې په کور کې یوه یا دوه ژبې وي نو مورنۍ ژبې لومړي نسل کې د مینځه تللې یا تلونکې وه.

خو دا ستونزه د هر لوري وڅېړل شي بېرته مسؤلیت مور او پلار ته ورګرځي. دا کار د مور او پلار ایثار او فداکارۍ ته اړتیا لري. که مور او پلار ایثار او قرباني ورنه کړي نو نورې لارې کم ځرکه پایلې لري.

Dieses Material steht unter der Creative-Commons-Lizenz Namensnennung 4.0 International. Um eine Kopie dieser Lizenz zu sehen, besuchen Sie http://creativecommons.org/licenses/by/4.0/.

The European Commission support for the production of this publication does not constitute an endorsement of the contents which reflects the views only of the authors, and the Commission cannot be held responsible for any use which may be made of the information contained therein.

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union

ستاسې د بریالیتوب په هیله

**اخځایونه**

د دغه مقالې په لیکلو کې د لاندې اخځایونو څخه هم ګټه اخیستل شوی ده.

١. Så blir barn tvåspråkig (پدې ډول ماشوم دوه ژبې کیږي)لیکواله مېرمن لینورا ارنبرۍ

٢. Flerspråkighet i förskolan ( څو ژبتوب په وړوکتون کې) لیکوالان سوسن، پیه او کارین

٣. Skärholmens språkprogram (د خیرهولمن د ژبوپروګرام) د خیرهولمېن کمون

۴. Så blir barn flerspråkig، (پدې ډول ماشوم څو ژبی کیږي) سوینسکه ډاګبلادت ورځپاڼه، لیکواله میبا خوستروم

۵. Modersmål viktigt för nytt språk (مورنۍ ژبه د نوې ژبې لپاره مهمه ده)، د سویډن راډیو

٦. Modersmål och andraspråk stärker bsarnets språkutveckling ( مورنۍ ژبه او بله ژبه د ماشوم د ژبې پرمختګ قوي کوي) د ستاکهلم کمون

لیکنه: ډاکټر نجیب الله زاخېلوال

Dieses Material steht unter der Creative-Commons-Lizenz Namensnennung 4.0 International. Um eine Kopie dieser Lizenz zu sehen, besuchen Sie http://creativecommons.org/licenses/by/4.0/.

The European Commission support for the production of this publication does not constitute an endorsement of the contents which reflects the views only of the authors, and the Commission cannot be held responsible for any use which may be made of the information contained therein.

Co-funded by the Erasmus+ Programme of the European Union